# شریعت
ورځپاڼه
د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ١٦٤ ګڼه / سه شنبه ۰۵ شوال‌المکرم ۱٤٤٤ هـ.ق /۰۵ ثور ۱٤۰۲ هـ.ش / ۲۵ اپریل ۲۰۲۳ میلادي


د بهرنیو چارو وزارت:

## سوډان کې د بند پاتې افغانانو د ایستلو هڅې روانې دي

د بهرنیو چارو سرپرست وزیر مولوي امیر خان متقي وایي د سوډان جګړه کې ۱۲۰ تنه افغانان بند پاتې دي او د ایستلو لپاره یې هلې ځلې روانې دي. په سوډان کې له څو ورځو راهیسې د پوځ او ملیشه ځواکونو د دوو جنرالانو ترمنځ د واک پر سر نښته رامنځته شوې او د روغتیا نړیوال سازمان د معلوماتو له مخې، تر اوسه له ۴۰۰ ډېر کسان وژل شوي او تر ۳۵۰۰ ډېر نور ټپیان دي.

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر ویلي چې په سوډان کې ۱۲۰ تنه افغانان هم بندې پاتې دي، خو د هغوی د ایستلو هڅې یې پیل کړې دي. خو هغه دا ونه ویل چې دا عادي افغانان دي، محصلین او یا هم دیپلوماتان دي. نوموړي دا څرګندونې په خوست ولایت کې د کوچني اختر په مناسبت په یوه ستره غونډه کې کړې دي.

مولوی ذبیح‌الله مجاهد در واکنش به گزارش واشنگتن پست:

## افغانستان در سطح منطقه به یک کشور امن مبدل شده است



سخنگوی امارت اسلامی افغانستان، گزارش اخیرواشنگتن پست را جعلی خوانده است و در تویتی گفته است «سند جعلی رسانه یی شده به حواله وزارت دفاع امریکا، بخشی از پروپاگند دوامدار است.»

این در حالی است که اخیراً روزنامه واشنگتن پست، در گزارشی مدعی شده است که گویا، افغانستان به مرکز هماهنگی مهم برای گروه داعش تبدیل شده‌است.

واشنگتن پست بر بنیاد اطلاعات پنتاگون مدعی شده است که داعش تلاش می‌کند تا بر سفارت خانه‌ها، مرکزهای تجاری و محل‌های مسابقات ... ص۷

## ارزګان کې په لومړي ځل د سوداګرۍ خونه پرانیستل شوه

روزګان ولایت کې په لومړي ځل د تجارت خونه پرانیستل سوه او د دغه ولایت یو تن تجار الحاج حبیب الله یې د رئیس په توګه معرفي سو.

روزګان ته د افغانستان د تجارت خوني سرپرست رئیس الحاج محمد یونس مهمند د سفر په ترځ کي پرون د دغه ولایت د مرستیال والي ملا حکمت الله حاجي مزمل صاحب او ګڼ شمیر نورو تجارانو سره دغه ولایت لپاره د تجارت خونه پرانیستل او ورسره سم یي الحاج حبیب الله عمر د رئیس او د یادي خوني نور غړي معرفي کړه.

ښاغلي مهمند وویل د یادي خوني په پرانسته به د دغه ولایت د تجارانو او دولتي مسؤلینو تر منځ همږغي رامنځته سي او د دغه ولایت تجاران به د یادي خوني پر مټ د ملي او نړیوالو تجارانو سره یو ځای او لوی پانګوني به کیږي. ۷مخ

در دیدار مولوی عبدالکبیر با شماری از اعضای امارت؛

## روی چگونگی تقرب بیشتر ملت با امارت بحث صورت گرفت

معاون سیاسی ریاست‌الوزرا با شماری از شخصیت‌های مهم دیدار کرد.

مولوی عبدالکبیر معاون سیاسی ریاست‌الوزرای امارت اسلامی افغانستان، با شماری از شخصیت‌های مهم، مقامات و اعضای امارت اسلامی دیدار کرد.

دفتر مطبوعاتی ریاست‌الوزرا روز گذشته با نشر خبرنامه‌یی گفت: در این دیدار ضمن عید مبارکی؛ در مورد وضعیت جاری کشور و هم‌چنان نظریات مردم در رابطه به موضوعات و همکاری و نزدیکی بیشتر ملت با امارت اسلامی افغانستان بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

## یونسکو په بامیانو کې ولاړې پروژې بیرته پیل کړې دي

یو شمېر رسنیو خبر ورکړی چې، یونسکو په بامیانو کې د څو میلیونو ډالرو په ارزښت درېدلې پروژې بېرته پیل کړې دي. دا پروژې چې پیسې یې ایټالیا ورکوي په دوه زره یو ویشتم کال کې وروسته تر دې ودرېدې چې جمهوریت سقوط وکړ. د دې پروژو اصلي تمرکز د بامیان پر بودا مجسمو او د بامیان پر غلغلې ښار دی چې د شپږم او لسم میلادي کلونو ترمنځ ودان شوی دی. یونسکو اټکل کوي چې د دې پروژې له لارې به لږ تر لږه د سیمې سل تنو ته د کار زمینه برابره شي.




سوداګرۍ وزارت:

## تېر کال مو تر ۲۸۰۰ ډېر جوازونه وېشلي دي

د صنعت او سوداګرۍ وزارت وایي، چې په یوه کال کې یې د سوداګرۍ او پانګونې په برخو کې کورنیو او بهرنیو سوداګرو ته تر ۲۸۰۰ ډېر جوازونه وېشلي دي. د یاد وزارت په خبره، چې ۲٦۷۹ نوي جوازونه صادر شوي او ۷۲۲۷ جوازونه تمدید شوي دي. د صنعت او سوداګرۍ وزارت په خبره، چې ددې ترڅنګ یې په ګڼو نورو برخو کې هم پانګوالو ... ۷مخ

## تقدیر از کارکردهای مسوولان محلی ننگرهار

معاون سیاسی ریاست الوزرا در دیدار با معاون والی و شماری از روسای ادارات محلی ننگرهار، از کارکردهای آنان تقدیر نمود.

دفتر مطبوعاتی ریاست الوزرا با نشر این خبر گفته است: مولوی عبدالکبیر معاون سیاسی ریاست الوزراء امارت اسلامی با مولوی ربانی معاون والی و شماری از روسای ادارات محلی ننگرهار دیدار کرد و گزارش کاری آنان راشنید.

مسوولان محلی ننگرهار... ص۷

وزارت انرژی و آب:

## پروژه های ناتمام سال پار تکمیل می شود

ملا عبدالطیف منصور، سرپرست وزارت انرژی وآب، گفته است که برای پروژه‌های مدیریت آب کشور از بودجه پروژه‌های انکشافی در نظر گرفته شده است.

ملا عبدالطیف منصور در صحبت با کارکنان وزارت انرژی و آب گفت که در سال پیش رو از بودجه انکشافی برای پروژه‌های مدیریت آب، مدنظر است و کار آن پروژه‌های که از سال قبل باقی مانده نیز تکمیل خواهد شد.منصور، همچنان از ... ص۷

## د تحصیلي نصاب بیا کتنه ۵۰ سلنه بشپړه شوې




د لوړو زده‌کړو وزارت وایي، د تحصیلي نصاب د بیاکتنې کار ۵۰ سلنه بشپړ شوی دی. د دغه وزارت د نصاب مشر عبدالروف فراهي وایي چې تر دې دمه په بېلا بېلو برخوکې د لیسانس او ماسټرۍ په برخوکې له ۸۰ ډېر درسي نصابونه وروستي شوي دي. د فراهي په وینا د ... ۷مخ

## بازداشت دو تن در پیوند به جعل کاری

پولیس کابل دو تن را در پیوند به جعل اسناد و حمل سلاح بازداشت کرد

دفتر مطبوعاتی قوماندانی امنیه کابل روز گذشته با نشر این خبر گفته است: پولیس حوزه سوم قوماندانی امنیه کابل یک تن را در پیوند به ترتیب پاسپورت های جعلی و یک تن دیگر را با سه میل تفنگچه، مقداری مهمات و چاقو بازداشت کرد.


نگاهی به پیام عیدی عالیقدر امیرالمؤمنین ص۲

د خوشالیو ډک اختر مو مبارک شه وطنوالو! ۳مخ

سږنی کوچنی اختر د تېر په پرتله له خوښیو ډک و ص٤


اقتصاد وزارت:

## د څارنې او روڼتیا له لارې د مرستندویه بنسټونو ملاتړ کوو

د اقتصاد وزارت وایي، مرستندویه بنسټونه او موسسې د بېوزلې په کمولو کې مهم رول لوبوي او له همدې امله دغه وزارت په هېواد کې د بېوزلې د لمنځه وړلو او اقتصادي ودې په موخې د مرستندویه بنسټونو او موسسو له فعالیتونو څخه له څارنې او روڼتیا سره سم ملاتړ کوي. اقتصادي کارپوهان ټینګار کوي نړیوالې مرستې به په افغانستان کې هغه وخت اغېزمنې وي، چې د فقر د کمولو په پلمه سیاسي موخې تعقیب نشي. ورته مهال د هېواد یو شمېر اوسېدونکي وایي، د کار عواید په نشتوالي کې د دوی لپاره ژوند خورا ستوزمن شوی دی.



## سرمقاله

## تلاش‌های که در تبانی با ملت به ثمر می‌نشیند

عید سعید فطر از بزرگترین و مهم‌ترین اعیاد اسلامی است که با رویت هلال ماه شوال به وقوع می‌پیوندد، مسلمانان جهان به ویژه مردم متدین و دین دوست افغانستان نیز با سپری کردن ماه مبارک رمضان و گذراندن روزها و شب‌های پر فضیلت قدر در روز جمعه اول ماه ثور با یک عالم امید و باور به خداوند سبحان و بخشایش گناهان‌شان از سوی او تعالی، نماز عید را در یک فضای صمیمی، توأم با صلح، ثبات و امنیت و هم‌چنان در آرامش کلی، بر پا و از روزهای عید سعید به خوبی و خوشی استقبال کردند.

عید سعید فطر روزی است که خداوند(ج) برای جوایز رحمانی‌اش و انعام رحیمی خویش از میان روزهای سال برگزید تا برای بندگان مخلصش، بعد از سپری کردن یک ماه روزه‌داری و شب زنده‌داری و طلب آمرزش، اعطا کند که ان شاءالله نصیب تمام روزه‌داران گردد.

هر چند عید سعید فطر برای همه‌ی مردم جهان عید نیست، بلکه عید و تحلیل از آن، برای اهل تسلیم و عید روزه دارانی است که با موفقیت وظیفه بندگی خودرا در این ماه مبارک انجام داد و در این آزمون معنوی، سربلند و مؤفق بیرون شده‌اند. مسلماً روز جشن و خوشی کسانی است که از مهمانی خداوند عزوجل برگشته و از خوان او تعالی برخوردار شده‌اند.

بنا برین از خداوند رحیم مسألت داریم که روزهای ... ص۷

## کندز کې د ترافیکي پېښو له امله ۸ تنو ته مرګ ژوبله اوښتې ده

د کندز د ترافیکو مدیریت مسوولین وایي، چې د اختر په تېرو درېیو ورځو کې د دغه ولایت په بېلابېلو سیمو کې ۸ ترافیکي پېښې شوې، چې په کې ۸ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. د دغه ولایت د ترافیکو مدیریت د پېښو آمر محمد یاسین باختر آژانس ته وویل، چې په دغه ولایت کې د اختر په تېرو درېو ورځو کې ۸ ترافیکي پېښې رامنځته شوې، چې په کې ۲ کسان مړه او ٦ نور ټپیان شوي دي. یاسین زیاته کړه، چې د تېر اختر... ۷مخ

زابلیان:

## کوچنی اختر مو په امن او خوښیو تېر کړ



د زابل سیمه ییز خلک وایي یو بې مثاله د خوښیو ډک او امن اختر یې شاته پرېښوده خلک خوشحاله او د هېواد بېلابېلو برخو ته یې سفرونه وکړل.

د دوی په وینا چې د هېواد دننه او د ولایت هغه لیرې پرتو سیمو ته یې سفرونه وکړل چې له دې وړاندې یې ورتګ نه شوای کولای خو دې اختر کې د ښه امنیت له امله ... ۷مخ

# اختر؛ دسلفو صالحینو له قوله

حسان مجاهد

_ حسن بصري (رح) وايي: هره هغه ورځ چې د رب تعالی نافرماني په کې ونه شي؛ اختر ده او هره هغه ورځ چې مؤمن يې د خپل رب په ذکر او طاعت کې تېره کړي؛ دده لپاره اختر دی.(لطائف المعارف ۱/۲۹۹)

_ ابن جوزي (رح) وايي: اختر هغه نوې جامې نه دي چې فخر را جلبوي او نه اختر هغه خوراکونه دي چې دخوښۍ په لپو خوړل کيږي او له بد انجامه يې بېغمه وي؛ بلکې اختر دادی چې ګنهګار د توبې جامه په تن کړي او د ورک شوي زړه په پيدا کولو سره خوشحاله شي.(التبصرة ۲/۱۰۳)

_ ابن رجب حنبلي رح ليکلي: ځيني کسان ديو کلي د راهب ترڅنګ تيريدل، له راهب څخه يې وپوښتل: ددغه کلي اختر څه مهال دی؟ ده ورته کړه» هغه ورځ چې اوسيدونکو ته يې ښښنه وشي، اختر د هغه چانه دی چې نوې جامې په تن کړې، بلکې اختر دهغه چا دی چې طاعات يې زيات وي، اختر دهغه چا نه دی چې ښايسته جامې او سورلۍ ولري، بلکې اختر دهغه چا دی چې ګناهونه يې وبښل شي.(لطائف المعارف ۱/۲۹۹)

_عمر بن عبدالعزيز رح به دکوچني اختر په خطبه کې ويل « ای خلکو! ديرش ورځې مو روژه ونيوله او ديرش شپې مو تراويح وکړې او نن په دې موخه راوتلي ياست چې دا هر څه الله تعالی درنه قبول کړي.

_ عبد الله ابن مسعود (رضي الله عنه) به د رمضان په وروستۍ شپه را ووتل او غږ به يې کړ: کاشکي خبر وای چې له چا څخه دا عبادت(روژه) قبوله شوې ده چې مبارکي ورکړو او له کوم بد نصيبه نه ده قبوله شوې چې تسلي ورکړو!

_ حضرت علي (کرم الله وجهه) د اختر په ورځ کمزورې ډوډۍ خوړله چې يو چا ترې وپوښتل: ای امير المؤمنينه! د اختر ورځ او دا ډول کمزورې ډوډۍ؟ نوموړي ورته وويل « اختر دهغه چا دی چې ښښنه ورته وشي او روژه يې قبوله شي، زموږ نن هم اختر دی سبا هم او هره هغه ورځ اختر دی چې د الله تعالی نافرماني په کې ونه شي.

_ابن رجب رح: ځيني اسلاف به د کوچني اختر په ورځ ډير غمجن وو، يو چا به ورته وويل: دا خو د خوشحالۍ ورځ ده؟ نو دوی به ورته وويل: «رښتيا هم! خو زه خپل رب امر کړی يم چې د هغه لپاره يو عمل وکړم(روژه ونيسم)خو اوس خبر نه يم چې دا عمل به له ما قبول شوی وي که يا؟[لطائف المعارف]

_ امام مالک رح وايي: د مؤمن لپاره پنځه ورځې اخترونه دي: لومړۍ: هغه ورځ چې ګناه په کې ونه کړي. دوهمه: هغه ورځ چې له دنيا څخه با ايمانه رخصت شي. دريمه: هغه ورځ چې دقيامت له سختو بيغمه په پل صراط تير شي. څلورمه: هغه ورځ چې جنت ته داخل شي او پنځمه هغه ورځ چې مؤمن خپل رب سره ملاقات وکړي.

_ وهب بن ورد (رح) د اختر په ورځ څه کسان وليدل چې خندل يې، نوموړي وويل « که ددغه کسانو روژه قبوله شوې وي؛ نو دا حال(خندا)له شکر ګذاره خلکو سره نه ده مناسب او که يې روژه نه وي قبوله شوې؛ نو دا حال له ويريدونکو سره(هغه خلک چې د عبادت د نه قبوليت ويره ورسره وي) نه ده مناسب؟!

_ وکيع (رح) وايي: موږ له سفيان ثوري (رح) سره د اختر په ورځ ووتو چې نوموړي وويل « نن ورځ لومړی هغه کار چې موږ به يې پيل کوو؛ هغه له حرام نظر څخه د سترګو ساتنه ده»(الورع لابن ابی دنياص۶۳)


_محمد بن عبد الله الزراد (رح) وايي: کله چې حسان بن ابي سنان رح د اختر په ورځ راغی؛ نو چا ورته وويل: موږ خو له دې اختر پرته په بل هيڅ اختر دومره زيات شمېر ښځې نه وې ليدلې. نوموړی(چې سترګې يې له ناروا ژغورلې وې) ويې وويل»ما خو تر هغه وخته چې بيرته راستون شوم؛ يوه ښځه هم نه ده ليدلې»(ملتقی أهل الحديث)

_ له بشر حافي رح څخه وپوښتل شو: ځيني کسان په روژه کې د عبادت ډيره هڅه کوي خو له روژې وروسته عبادت ته شا کړي؟ نوموړي وويل: هغه ډير بد خلک دي چې خپل رب يوازي په رمضان کې ښه پيژني.

_ دوخت عادل خليفه عمر بن عبدالعزيز (رح) خپل زوی د اختر په ورځ په زړو جامو کې وليده او ويې ژړل، زوی يې ترې وپوښتل: پلاره! ولې ژاړې؟ نوموړي وويل: له دې ويرې چې کله ته په دغه زړو جامو کې د اختر په ورځ له ماشومانو سره لوبې کوې؛ نو ستا زړه به مات شي. زوی يې ورته وويل «زړه خو دهغه چا ماتيږي چې دخپل رب نافرماني وکړي او دمور او پلار آزار وهلی وي، زه اميد لرم چې ستا له وجې له ما څخه الله تعالی راضي شي» پلار يې ور نږدې کړ، ښکل يې کړ او دعا يې ورته وکړه.

# نگاهی به پیام عیدی عالیقدر امیرالمؤمنین

ابوالیاس جهادوال




عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ هبة الله اخندازه حفیظه الله همه‌ساله به مناسب فرارسیدن ایام عید پیام‌های عیدی را به آدرس ملت مجاهد و مجاهد پرور افغانستان و امت مسلمه صادر می‌کند که در آن به مسائل مهم کشور و جهان پرداخته شده و در ضمن هدایاتی را به مسوولان و مجاهدین امارت اسلامی ارائه می کند.

این پیام که با حمد و ثناء، آیات قرآنی و احادیث نبوی آغاز شده است، مشتمل به ١٤ ماده می‌باشد، به مسائل مختلف از جمله وضعیت اقتصادی، اجتماعی و سیاسی پرداخته است.

شیخ صاحب حفیظه الله در ماده اول پیام عیدی خود ضمن تقدیم سلام به ملت مجاهد افغانو مسلمانان جهان، به آن‌ها توصیه نموده است که شکرانه نظام اسلامی و تأمین امنیت سراسری در کشور را اداء نمایند.

وی هم‌چنان از سرمایه‌داران و تاجران کشور خواسته است که با هموطنان فقیر، مسکین، یتیمان، بیوه زنان و خانواده‌های شهداء کمک نموده و صدقه و خیرات فرضی و نفلی خود را در این شب و روزهای مبارک به افراد مستحق بدهند تا آنان حاجات‌شان را مرفوع نموده و خوشی عید را به گونه درست تجلیل کنند.

در ماده دوم این پیام عیدی مسؤولین و مجاهدین امارت اسلامی مکلف شده اند که در خدمت به مردم اخلاص و تلاش بیشتر نمایند، زیرا خدمت به مردم عبادت است که باید به‌گونه درست انجام گردد و حقوق شرعی و خوشحالی ملت در نظر گرفته شود. وی نظام امارت اسلامی افغانستان را مکلف رفاه ملت و تحقق حقوق شرعی مردم دانسته و به مردم اطمینان داده است که این حقوق آنها به وجه احسن داده خواهد شد.. موصوف از مردم نیز خواسته است که به‌منظور تأمین عدالت با محاکم همکاری نموده و از سفارشات، دعوای جعلی و تزویری جداً اجتناب ورزند.

در ماده سوم این پیام مسوولان امارت اسلامی و مردم را به همکاری با مسوولان امر بالمعروف و نهی عن‌المنکر وادار شده اند تا در اقامه معروفات و جلوگیری از منکران با مسوولان مربوطه همکاری نمایند. عالیقدر امیرالمؤمنین اصلاح و آگاهی دهی مردم را مسوولیت علماء دانسته و از آنها خواسته است تا این مکلفیت خود را به وجه احسن انجام دهند و از طریق منابر، نشست‌ها، رسانه‌ها و دیگر برنامه‌ها در زمینه اصلاح و تنویر اذهان عامه تلاش نمایند.

عالیقدر امیرالمؤمنین در ماده چهارم پیام عید فطر خود، بر اهمیت بازسازی و آبادی افغانستان بیرون شده از جنگ‌های خانمان‌سوز اشاره نموده و از افغان‌های مسوول و غیرمسوول خواسته است که برای آبادی کشور تلاش نموده و در این عرصه منتظر کمک دیگران نباشند. وی تاجران و سرمایه‌داران را تشویق به سرمایه‌گذاری نموده از همکاری امارت اسلامی با آنان اطمینان داده است.

ماده پنجم پیام بر اهمیت امنیت و ثبات تأکید دارد و از مردم خواسته است تا در حفظ آن با نظام قاطعانه همکاری نمایند. وی با اشاره به تلاش‌های مخربانه برخی حلقات اطمینان داده است که با نصرت الهی و حمایت ملت این تلاش‌ها ناکام خواهد شد.

ماده ششم پیام به سیاست خارجی امارت اسلامی اختصاص یافته است و در آن بر روابط مثبت و مؤثر استوار بر تعامل خوب و متقابل با کشورهای همسایه، جهان اسلام و جهان تأکید گردیده و از آنها نیز خواهان روابط متقابل می‌باشد.

زعیم امارت اسلامی در ماده هفتم پیام عید فطر با اشاره به ممنوعیت کشت تولید مواد مخدر و تطبیق فرمانی در این خصوص از سوی مردم را یک دست آورد بزرگ خوانده و افزوده است که این کار قاطعت امارت اسلامی و حمایت مردم از نظام را نشان می‌دهد و اطمینان داده است که افغانستان پس از این کشور مؤلد موادمخدر نخواهد بود.

وی در ضمن به جمع آوری معتادین و سپردن آنها به خانواده های شان را پس از معالجه، مکلفیت شرعی امارت اسلامی دانسته است، کاری‌که در ۲۰ سال گذشته هیچ توجهی به آن صورت نه‌گرفته بود.

ماده هشتم این فرمان به جمع‌آوری گداها و کمک و رسیدگی به مشکلات آنان اشاره نموده و آنرا یک اقدام مهم مشفقانه دیگر امارت اسلامی می‌خواند که طی آن گداهای حرفوی(کِسبی) واقعی از همدیگر تفکیک و زمینهٔ کمک به هموطنان محتاج و نیازمند فراهم گردیده و در ضمن برای آنان یک مقدار اعانهٔ معین از بودجهٔ حکومت تعیین گردید. که این در تاریخ افغانستان اقدام مهم می‌باشد و همدردی بی سابقهٔ امارت اسلامی را با مردم‌شان نشان می‌دهد.

در ماده نهم فرمان ضمن اشاره به دست آوردهای اقتصادی ارگان‌های مربوطه، از تلاش‌های مسوولینی که با وجود مشکلات و موانع فراوان، اقتصاد کشور را به گونهٔ بهتر مدیریت نموده و بودجه ملی سال گذشته و سال جاری را از عواید داخلی تنظیم نموده اند، تمجید شده است.

ماده دهم پیام عالیقدر امیرالمومنین به مسائل تعلیم و تربیه در کشور اختصاص یافته و گسترش روند تعلیم و تربیه متوازن در سراسر کشور و تربیه تمام فرزندان کشور را از مکلفیت‌های امارت اسلامی دانسته و اطمینان داده است که به خاطر پیشرفت بیشتر آن پلان‌های مؤثری روی دست می با شد.

در ماده یازدهم پیام بررسی کار و حالات مسؤولین ولایتی، نظر و مشوره‌دهی در امور دینی و مذهبی به‌گونهٔ کتبی و شفاهی برای ادارات ولایتی، توجه به برخورد مسؤولین امارتی و شریک‌سازی کاستی‌های آنان به گونهٔ احسن، ایجاد فضای باور و تعلق خوب میان مسؤولین و مردم و به همین‌منظور ایجاد شوراهای مشترک علمای کرام و متنفذین و ترتیب لایحه و چوکات کاری خوب؛ را از جمله کارهای ارزنده‌یی خوانده شده است که به وجه احسن انجام شده و ابراز امیدواری شده است که مسوولان مشکلات فراراه خود را از همین طریق به‌گونهٔ بهتر، امانتداری و دقت، بررسی و حل نمایند.

ماده دوازدهم فرمان به حیثیت ویژه محاکم امارت اسلامی و مسوولیت مهم آنها اشاره نموده و به تمام قضات و مسؤولین محاکم هدایت داده شده است که با توجه به مسؤولیت مهم‌شان در راستای به‌دست آوردن حقوق حقهٔ مردم و حل منازعات، جدی و پرتلاش باشند، در قضاوت میان قوی و ضعیف تفاوت قایل نشوند و با هرکسی از روی عدالت و مساوات برخورد کنند. در حدود الله سبحانه و تعالی، شخصیت مجرم را مدنظر نگیرند و به جای مجرم، به جرم نگاه کنند؛ از مظلوم دفاع نمایند، از ظالم جلوگیری کنند و در حل قضایای مردم بدون تأخیر و درنگ به آنان خدمت نمایند.

در ماده سیزدهم این پیام به مسؤولین وزارت صحت عامه هدایت داده شده است که در بخش صحت، شب و روز در خدمت ملت باشند، و در راستای تقویت مراکز صحی و مؤثریت بیشتر آن کار نمایند. در رابطه به معالجه و وقایه به مشکلات مردم رسیدگی کنند و برای خودکفایی کشور در بخش صحت گام‌های استوار و قوی بردارند.

ماده اخیر این فرمان نیز مشتمل به برخی توصیه‌ها به نیروهای امنیتی و دفاعی امارت اسلامی می‌باشد و از آنها خواسته شده است تا نیت‌های خود را خالص لله فی الله بگردانند، خود را با زینت تقوی آراسته نمایند، حمد الله تعالی را به جا آورند که به برکت جهاد مقدس و نصرت الله جل جلاله فتح عظیم نصیب شان شد، عدالت، احسان و عجز نمایید، از کبر، غرور، ظلم، خیانت و مصارف بیجا اجتناب ورزند و از قوم پرستی، منطقه پرستی، لسان پرستی و اندیوال بازی جداً بپرهیزید.

با مطالعه دقیق این فرمان عیدی زعیم امارت اسلامی در می‌یابیم که وی ضمن آگاهی دقیق از وضعیت امنیتی، اقتصادی، سیاسی، تعلیمی، صحی و اقتصادی کشور به برخی کاستی‌های موجود نیز متوجه بوده و در راستای حل آن به مسوولان هدایات و سفارشات لازم ارائه نموده. بناءً به مسوولان امارت اسلامی و ملت مجاهد و مجاهد پرور افغانستان لازم است تا این سفارشات را به حیث وجیبه دینی خود در امور مربوطه در نظر گرفته و آنرا نقش قدم خود بگردانند.

# منع تبعیض در نصوص دین مبین اسلام، قوانین ملی و اسناد بین المللی

پوهنیار عبدالقهار مومنی

انسان را خداوند کریم اشرف المخلوق، خلیفه و جانشین¬اش در روی زمین آفریده به او کرامت، عزت و حاکمیت بخشیده، زیرا انسان یگانه مخلوق خدای متعال است که با وجود تمامی خواهشات انسانی و دشمنی آشکار شیطان رانده شده به اطاعت وبندگی او پرداخته و در این راستا به قله¬های مرتفع رسیده است، زیرا خداوند کریم از نسل انسان محبوب ترین¬ها را آفرید تا تمامی احکام خالق¬اش را پخش ونشر نمایند، انسان¬ها را از هرنوع رزایل چون شرک، کفر، ظلم، تبعیض بین بنده گان او منع نماید.

باخلقت انسان خداوند متعال رهنمودهای سماوی را نازل فرمود تا انسانان در روشنایی آن زندگی با سعادت داشته باشند و انسان را از هر نوع منکرات و نافرمانی¬ها منع فرمود که یکی از این منکرات تبعیض بین بنده¬گان خداوند متعال است. این پدیده شوم در طول تاریخ بشری بین بشریت و جود داشت که جامعهٔ بشری را به چالش مواجه ساخته است. روی همین ملحوظ خواستیم اشاره کوتاه به منع تبعیض در نصوص دین مبارک اسلام، قوانین ملی و اسناد بین المللی داشته باشیم.

**منع تبعیض در نصوص قرآنکریم:** خداوند متعال در مورد می¬فرماید: ترجمه: ای مردم، ما شما را از نری و ماده ای بیافریدیم و شما را جماعتها و، قبیله¬ها کردیم تا یکدیگر را بشناسید هر آینه گرامی ترین شما نزد خدا، پرهیزگارترین شماست خدا دانا و کاردان است.

منع تبعیض در احادیث نبوی«ص»: پیامبر بزرگ اسلام در زمینه فرموده است: «ایهاالناس ان ربکم واحد و ان اباکم واحد کلکم لآدم وآدم من تراب. ان اکرمکم عندالله اتقیکم و لیس لعربی علی عجمی فضل الا بالتقوی» ای مردم! همانا خدای شما یکی و پدر شما یکی است، همه شما از آدم و آدم از خاک است، همانا گرامیترین شما نزد خداوند با تقوا ترین شماست، و عرب را بر عجم فضیلتی نیست جز به تقوا.

**منع تبعیض در قوانین ملی:** از نظر قوانین وضعی هر نوع تبعیض و امتیاز بین اتباع افغانستان ممنوع است. اتباع افغانستان اعم از زن و مرد در برابر قانون دارای حقوق و وجایب مساوی می¬باشند.

به همین ترتیب مادهٔ (٦) کود جزا در رابطه به منع این پدیدهٔ شوم این چنین صراحت دارد: «مظنون و متهم و محکوم بدون نظر داشت تعلقات ملیتی، نژادی، زبانی، قبیله ای، دینی یا مذهبی، عقیدهٔ سیاسی، جنس، موقف اجتماعی، محل سکونت در برابر قانون از تساوی کامل برخوردار می باشد».

**منع تبعیض در اسناد بین المللی:**

**الف - اعلامیه جهانی حقوق بشر:** مادهٔ دوم این اعلامیه چنین تصریح میدارد: «هر کس می تواند بدون هیچ گونه تمایز، مخصوصاً از حیث نژاد، رنگ، جنس، زبان، مذهب، عقیده سیاسی یا هرعقیده دیگر و همچنین ملیت، وضع اجتماعی، ثروت، یاهر موقعیت دیگر، از تمام حقوق و کلیه آزادیهای که در اعلامیه حاضر ذکرشده است، بهره مند گردد.

بعلاوه هیچ تبعیضی به عمل نخواهد آمد که مبتنی بر وضع سیاسی، اداری و قضایی یا بین المللی کشور یا سرزمینی که شخص به آن تعلق دارد، خواه این کشور مستقل، تحت قیمومیت یا غیر خود مختار بوده یا حاکمیت آن به شکلی محدود شده باشد.

ب – اعلامیه جهانی حقوق بشر اسلامی: این اعلامیه در مادهٔ اول چنین تصریح میدارد «بشر بطور کلی یک خانواده می¬باشند که بندگی نسبت به خداوند و فرزندی نسبت به آدم آنها را گرد آورده و همه مردم در اصل شرافت انسانی و تکلیف و مسؤلیت بدون هر گونه تبعیضی از لحاظ نژادی، یارنگ یا زبان یا جنس یا اعتقاد دینی یا وابستگی سیاسی یا وضع اجتماعی و...برابر اند.

ضمناً عقیده صحیح، تنها تضمین برای رشد این شرافت از راه تکامل انسان میباشد.

همه مخلوقات به منزله عایله، خداوند هستند و محبوبترین آنان نزد خدا سودمندترین آنان به همنوع خود است. و هیچ احدی بر دیگری برتری ندارد مگر در تقوی و کار نیکو».

ج - ماده دوم– میثاق بین المللی حقوق مدنی وسیاسی: «دولتهای طرف این میثاق متعهد می شوند که حقوق شناخته شده در این میثاق را در باره کلیه افراد مقیم درقلمرو و تابع حاکمیت¬شان بدون هیچ گونه تمایزی از قبیل نژاد، رنگ، جنس، زبان، مذهب، عقیده سیاسی یا عقیده دیگر، اصل و منشاء ملی یا اجتماعی، ثروت، نسب یا سایر وضعیت¬ها محترم شمرده و تضمین بکنند».

نتیجه گیری: از مطالعه موارد فوق به چنین نتیجه می¬رسیم که این پدیده در طول تاریخ بشری وجود داشت روی همین ملحوظ خداوند کریم نخست این پدیدهٔ شوم را در نصوص سماوی منع قرار فرمود که به تعقیب آن جوامع ملل در قوانین ملی و بین المللی آنرا نیز منع و نکوهش نمودند.

منابع:

قرآنکریم
۱. کود جزا جریدهٔ رسمی شماره (۱۲٦۰) سال ۱۳۹٦ هجری شمسی.
۲. اعلامیه جهانی حقوق بشر مصوب سال ۱۹٤۸ میلادی.
۳. اعلامیه جهانی حقوق بشر قاهره، ۱٤۱۱. هجری قمری.
٤. میثاق بین المللی حقوق مدنی و سیاسی، مصوب سال ۱۹٦٦

# امیرالمؤمنینی را که می‌شناسم!

مهاجر فراهی / ترجمه: محمدصادق طارق

من نه چاپلوس هستم و نه نویسنده‌ای متملق؛ که جهت خشنود نمودن یا ناراحت ساختن کسی، این نوشته را تحریر نمایم. بلکه این بینش ذهن ضعیف و برداشت خودم است. اگر حقیقت نوشته بودم خدا را سپاس بی‌کران گویم و اگر اشتباه نوشته بودم خدا راه راست را نشانم دهد.

بله؛ من نظر خود را در مورد قضایای امارت اسلامی به عنوان شخصی که حدود دو جزء (دو ثلث) عمر خود را در این صف مقدس گذارنده‌ام و مصالح عمومی این صف (امارت) را هزاران برابر بر منافع شخصی خویش اولویت می‌دهم، بیان می‌دارم. من با خدای خود عهد بسته‌ام هرگز کاری که در تضاد با اهداف عالی این نظام باشد، را انجام نخواهم داد.

نزدیک به دوازده سال از آشنایی من با شیخ‌الحدیث هبةالله آخندزاده حفظه الله، زعیم فعلی امارت اسلامی افغانستان می‌گذرد و سخنان ایشان را در نشست‌ها، جلسات و دیدارهای حضوری شنیده‌ام، اینکه ایشان چه شخصیتی دارند؟ طرز تفکرشان در مورد حکومت‌داری چیست؟ مردم و ملت را چگونه می‌بینند؟ نگرش او نسبت به بیت‌المال چگونه است؟ تقوا، پرهیزگاری و صداقت شان در چه حدی می‌باشد؟ سعی خواهم کرد به سؤالات مذکور و پرسش‌های مشابه دیگر پاسخ بدهم.

اندکی به گذشته بر می‌گردم؛ زمانی که خبر درگذشت بنیان‌گذار و اولین رهبر امارت اسلامی، ملا محمد عمر مجاهد نوّر الله مرقده رسماً منتشر شد و جهت تعیین جانشین ایشان از سوی شورای رهبری نشست‌های گوناگون دائر گردید و در نتیجه شهید ملا اختر محمد منصور تقبله الله به‌حیث امیرالمومنین برگزیده شد، فتنه‌های جدیدی سر از آستین بیرون آوردند.

ظهور گروه داعش و بروز اختلافات از جمله مواردی به شمار می‌رفتند که باعث تشویش و نگرانی زیاد در میان طالبان می‌شد، من خودم چنان پریشان بودم که بر خود ترسم گرفت تا مبادا اعصاب را از دست ندهم. فقط خودم را به این روش اطمینان می‌دادم که این خط مقدس حاصل خون میلیون‌ها حفّاظ وحی الهی، نوجوانان و مجاهدین استشهادی می‌باشد، هرگز خداوند آن را تلف نخواهد کرد.

شهید منصور تقبله‌الله گرچه فرد مدبّر و شخصیت واقف بر حالات سیاسی و شرایط موجود در آن زمان بود و توانست تا حدودی اوضاع را کنترل نماید، اما باز هم مشکلات و معضلات بزرگی باقی بود.

پس از شهادت منصور صاحب، زمانی که شیخ هبةالله آخندزاده با تصمیم شورای رهبری من‌حیث زعیم امارت اسلامی انتخاب شد، چهار چالش بزرگ پیش روی ایشان قرار داشت.

۱– به میان آوردن انسجام و اتحاد مجدد در میان صف امارت اسلامی.
۲– مبارزه محکم و قوی با فتنه‌ی داعش.
۳– روند مذاکره با آمریکایی‌ها در قطر.
٤– تقویت و تسریع فعالیت‌های جهاد علیه اشغال.

اگر در مورد وحدت صف، نظر منصفانه ارائه شود به یقین می‌توان گفت که شیخ صاحب حفظه‌الله در این زمینه کار فوق‌العاده‌ای انجام داد، حتی آن‌عده از افرادی که از ابتدای سقوط امارت اسلامی و آغاز اشغال ناراحت شده بودند، را خوشنود ساختند. و افرادی که راجع به رهبری منصور صاحب تقبله‌الله تردید داشتند آنها را نیز گردهم جمع نمود.

در مورد داعش پس از نظرگیری از علمای محترم اقدامات جدی انجام داد. قطعات منظم را زیر رهبری شهید محمد داوود مزمل اعزام نمود تا ریشه و سرچشمه‌ی آنان را از ولایات ننگرهار، لغمان، کنر و نورستان از بیخ ریشه‌کن نماید.

روند مذاکرات با آمریکایی‌ها در قطر را به گونه‌ای رهبری نمود که تمام خواسته‌های شریعت و ملت خود را در متن توافق جابجا نموده و طرف مقابل را به پذیرفتن آن مجبور ساخت. در متن توافق مذکور یک کلمه و سخنی که مایه‌ی ننگ و شرمساری نسل‌های آینده‌ی ما شود و یا خلاف مصالح علیای کشور ما می‌باشد، وجود ندارد.

بخش چهارم که عملیات و جهاد مسلحانه علیه سربازان متجاوزین و اداره کابل بود، را بسیار خوب سازماندهی و رهبری کرد. برای جلوگیری از تلفات ملکی در جنگ‌ها تصامیم جدی گرفته شد. برای رسیدگی و درمان قربانیان و زخمیان جنگ‌ها اقدامات قوی و مؤثر صورت گرفت. مهم‌تر از همه اینکه پروسه‌ی دعوت، ارشاد، جلب و جذب سرعت گرفت افراد بزرگ و کلیدی از صفوف دشمن جدا شده و زندگی عادی خود را آغاز نمودند. ادامه دارد...!

# د خوشالیو ډک اختر مو مبارک شه وطنوالو!

امین وردګ

پهٔ تېرو (تیارو) کلونو کې څهٔ کم نیوي اخترونو افغانانو له اوښکو او وینو سره ولمانځل.

پهٔ هر اختر کې بهٔ چې کله موږ پهٔ جوماتو کې د سهار له چای څښلو وروسته له نورو کلیوالو او وطنوالو سره پهٔ غېږو اخترمبارکي کوله، نو ژړا او سلګۍ بهٔ مو حتمي وې؛ ځکه چې ډېر کلونو ځوانان بهٔ مو د تېر کال له اختر څخه را پدېخوا له لاسه ورکړي وو.

کله بهٔ چې موږ یو له بل سره مخ کېدلو، نو له یوې خوا بهٔ د مقابل لوري شهیدان او له بلې بهٔ خپل شهیدان را یادېدل، له دریم لوري بهٔ مو دا اخترمبارکي داسې ګڼله؛ لکه زموږ آخرنۍ خداپامانې چې وي! ځکه هېڅوا بهٔ هم دا ګمان نهٔ کولو، چې له راتلونکې شپې دې ژوندی ووزي.

د غټانو تر منځ بهٔ ماشومانو هم سرې ته لاسونه اوږده کړل، چې پهٔ دغو ګلونو کې بهٔ د شهیدانو بچې هم تر سترګو کېدل، نو پهٔ غلو سترګو، وچو غونډې شونډو او الوتي رنګ بهٔ یې سرې ته وویل: ((کاکا! اختر دې مبارک شه!)) نو تر ټولو بهٔ دغه صحنه ډېره دردوونکې وه.

د سهار د چای، د جوماتو امام ته له فطر ورکولو، د دودیزې اخترمبارکۍ له مراسمو بهٔ چې مازې فارغ شوو، نو بهٔ نوبت د هدیرې راغی؛ هر سړی بهٔ هدیرې ته روان ؤ او هلته بهٔ یې د خپلو خپلوانو قبرونو ته سلامونه کول او له اللّه پاک څخه بهٔ یې بخښښونه ورته غوښتل؛ مګر د شهید قبر ته بهٔ نسبت نورو ته زیات خلک ور روان وو، چې پهٔ هغوی کې بهٔ د شهیدانو کونډې، د شهیدانو میندې، خوینډې او وړوکي ماشومان یې هم وو.

کله بهٔ چې د شهید له قبر څخه د هغهٔ یتیمان او غمځپلی فامیل یې لاړ، نو بیا بهٔ وار د سنګر د ملګري او همزولو یې شو، لنډه دا چې؛ د اختر لومړنۍ ورځ بهٔ د شهیدانو پهٔ ویر کې تېره شوه.

کله بهٔ چې شپه راغله، نو آسمان بهٔ یو ځل بیا غربیانو اشغال کړ او داسې بنګ بونګ بهٔ جوړ شو؛ لکه هغه د مچیو پهٔ ځاله کې.

شپه بهٔ چې نیمایي ته رسېدله، نو د ګړبنو (چینوک) الوتکو غږ بهٔ هم رانږدې شو او پهٔ مخابرو کې بهٔ ناري شوې چې: کړبنې له خدر څخه در پورته شوي (خدر یوه منطقه ده چې پهٔ لوګر کې موقعیت لري، پهٔ دغه ځای کې غربي اشغالګرو ډېره لویه نظامي پایګاه جوړه کړې وه؛ چې د لوګر، پکتیا، پکتیکا، وردګو او غزني چاپې بهٔ یې زیاتره له همدغهٔ ظالم پنډغالي څخه وهلې) نو کومو مجاهدینو بهٔ چې د خدر پهٔ شاوخوا کې پیرې کولې، هغوی بهٔ د مخابرې له لارې خبر خپور کړ؛ چې ګڼې الوتکې له هوایي ډګر څخه درپورته شوې او فلانې لوري ته روانې دي ، هغه بهٔ غږونو د رابنو له لارې سره لاس پر لاس او ټول مجاهدین ملګري بهٔ تیار ناست شول، تر دې چې د دوی د وحشت سیمه بهٔ مشخصه شوه او پر هغهٔ ځای بهٔ چاپه ولوېده.

نو کله بهٔ چې د اختر دویم سهار شو؛ ګڼ شهیدان بهٔ پېښ شوي وو! ځکه خو بهٔ هر سړي کوښښ کولو چې ځان د جنازو ځای ته و رسوي، هم بهٔ له خاورو او لوټو څخه د شهیدو جسدونو پهٔ را ایستلو کې مرسته وکړي او هم بهٔ د جنازې لمونځ اداء کړي.

دویمه بهٔ داسې تېره شوه او پر دریمه خو بهٔ هسې هم پهٔ جوماتو کې ګیلم هوار ؤ او خلکو بهٔ د شهیدانو فاتحې اخیستې.

کله بهٔ بیا د اختر پر لومړۍ شپه هم چاپه ولوېده او ګڼ ګلونه ځوانان بهٔ یې شهیدان کړل، یا بهٔ د اختر پر لومړي سهار، غرمه، یا هم ماسپښین او مازدیګر ډرون ګذار وکړ او پر موټر سیکل سپاره ملګري بهٔ یې ټوټې ټوټې کړل.

بلې! غربیان پهٔ ریښتیا سره وحشیان وو، هغوی بهٔ زیاتره وخت دا کوښښ کولو؛ چې موږ د خوشالیو پهٔ شپو ورځو کې ډېر و ځوروي! ځکه خو یې د عراق صدر (صدام حسین) هم د لوی اختر پر لومړي سهار دار ته پورته او شهید کړ، چې د ۲۱ عربي جزیرو یوهٔ حکومت هم غیرت پرې و نهٔ کړ.

غربي وحشیان بلکل د بشر حرمت تهٔ قائل نهٔ وو، نهٔ یې د اخترونو ورځو ته احترام لرلو، نه د جنازو مراسمو او نهٔ هم ودونو او داسې نورو خوشالیو ته.

یقیناً چې دوی هېڅ ضمیر او وجدان نهٔ لرلو؛ دوی دلته شل کاله داسې وحشیانه جګړې وکړې چې هېڅ جنګي قانون یې هم نهٔ دی مراعات کړی، مګر هغه مهال! چې خبر بهٔ رسوا شو او د پټېدلو لپاره بهٔ یې هېڅ لاره هم نهٔ وه پاتې.

خو لله الحمد چې سږنی اختر د خوشالیو اختر دی.

داسې اختر پهٔ دا څلورو لسیزو کې موږ نهٔ دی لیدلی.

سږنی اختر پهٔ ریښتیا سړی له ډېرې خوشالۍ الوتو ته سیخوي.

له یوې خوا آزادي ده او خپلواکي ده، له بلې خو خوشاله او آرام یو؛ نهٔ الوتکې نهٔ چاپې شته ، نهٔ جنازې نهٔ فاتحې شته، نهٔ مو کونډه خور ژاړي او نهٔ مو یتیمان ژړېږي، نهٔ میندې بورې دي او نه مو هم ځوانان ځورېږي.

اوس دا خبره څوک نهٔ کوي چې: ((مه ځه! ناوخته دی)) اوس تر نیمو شپو ملګري بېغمه سره ناست وي او بیا هر سړی پر موټر سیکل خپل کور او خپلې کوټې ته ځي.

اوس د هر چا وسله پهٔ میاشتو میاشتو پر دېوال ځړېږي او دا وېره نشته چې خطر بهٔ پېښ شي، اوس مرمۍ نهٔ مصرفېږي! بلکې پهٔ میاشت دوو کې که کوم څوک ټک وکړي، هغه هم د ټوپک د پاکېدلو لپاره؛ چې ګواکې میل یې زنګ نهٔ شي.

نو دا اختر پهٔ ریښتیا د خوشالۍ اختر دی! ټولو ته دې مبارک وي، اللّه پاک دې نور زموږ ټول اخترونه همداسې له خوشالیو ډک کړي لکه سږنی.

هم آزادي، هم خوشالي، هم اختر او هم د پسرلي جنتي موسم؛ نو چې پهٔ داسې وخت سړی دا له یو عالم خاطرو ډکه جمله واوري چې وایي: ((اې! اختر دې مبارک شه! / ایسو! عید تان تبریک!))

بس نور نو اللّه پاک ته سرونه پر سجدو شئ او د زړونو له تل څخه مننه تري وکړئ او بیا دا ترې وغواړئ چې: ربه! ته خو مو نور مه ځوروه او نور مو هېواد له پلیتو اقشارو څخه د تل لپاره پاک وساته. آمین

**اختر مو مبارک شه!**

# سږنی کوچنی اختر د تېر په پرتله له خوښیو ډک و

احمد راشد

سږ کال د پلازمېنې کابل په ګډون په بېلابېلو ولایتونو، ولسوالیو، کلیو او بانډو کې د کوچني اختر ورځې په شور او زوږ سره ولنمانځل شوې، دا په داسې حال کې ده، چې امنیتي ځواکونو کلک تدابیر نیولي وو، په ښار د ننه کې کورنیو چارو وزارت هم د امنیت د تامین لپاره د ښار په بېلابېلو سیمو کې پوستې او چک پاینټونه ډېر کړي وو، چې ګران هېوادوال وکولای شي په آرامه فضا کې اختر ولنمانځي او له خپلو خپلوانو، دوستانو او ملګرو سره اختریزې شیبې لا رنګینې کړي،لله الحمد د امنیتي مسئولینو او چارواکو په هلو ځلو سره کابل ښاریانو د کوچني اختر ورځې په ډاډمنه فضا کې تېرې کړې او په اختریزو شپو او ورځو کې د کومې ناوړې پېښې شاهدان نه وو.

که څه هم افغانستان په تېرو اوونیو کې د خونړیو بریدونو شاهد و، بیا هم ډېرو خلکو د اختر په ورځ په خپلو ناستو او مېلمستیاوو کې د هېواد د امنیت او پخلاینې لپاره د زړه له تله دعاوې کولې. د شکر ځای و، چې سږنی اختر د تېر په پرتله ستر توپیر درلود، ټولو وګړو د ښار په هره څنډه کې د امنیتي ځواکونو په لیدو سره د دې ډاډ ترلاسه کاوه، چې له وېرې پرته وکولای شي خپل اختریز مراسم پر شور او ولولو سره ولنمانځي چې همداسې هم وشول.

د شکر ځای دادی چې اسلامي امارت په افغانستان کې له یو ځل بیا واکمنېدو وروسته د ټول هېواد امنیت تامین کړی او د امنیتي ضد عواملو او عناصرو د له




منځه ورلو هڅې یې ګړندۍ کړې دي.له تېرو میاشتو راپدېخوا په پلازمېنه او یو شمېر نورو ولایتونو کې د خوارجو څو مرکزونه له منځه وړل شوي دي او د دښمنانو د شومو پلانونو مخه یې نیولې ده.

له ټولو مهمه داده، چې په افغانستان کې له شل کلن ځنډ وروسته اشغالګر مات شول او ظالمانه کړۍ یې درې ورې شوې، د سپېڅلي جهاد له برکته ټولو هېوادوالو د کوچني اختر ورځې په پوره صداقت او زړورتیا په سوله ییزه فضا کې ولنمانځلې،د اسلامي امارت امنیتي مسئولینو د اختر په مناسبت په خپل سپېڅلي مسئولیت په ټول هېواد کې امنیتي تدابیر له پخوا کلک نیولي او پیاوړي کړي وو.

د اختر په دویمه او دریمه د بېلابېلو ولایتونو په ولسوالیو کې د دودیزو جشنونو لپاره تابیاوې نیول شوې وې او د سپورت په برخه کې یو لړ تورنمنتونه ترسره شول، چې دغه ډول جشنونه او سپورتي مسابقې د درنو هېوادوالو زړونه نږدې کوي او د دوی په منځ کې د صمیمیت او ورورګلوۍ فضا لا غوړېږي.

په همدې مناسبت په کابل، غور، ارزګان، فراه، بامیانو، پنجشېر، زابل، خوست، لغمان، بلخ او د هېواد په یو شمېر نورو ولایتونو کې ځانګړو مراسمو کې د اختر د مبارکۍ په ترڅ کې مسئولینو او وینااوالو د کوچني اختر د رارسېدو په مناسبت د امیرالمومنین شیخ الحدیث مولوي هبة الله اخندزاده (حفظه الله) پیغام لوستلو ترڅنګ له افغانانو سره د مینې او خواخوږۍ او د دوی تر منځ د کرکې او نفاق د لرې کولو غوښتنه وکړه.

وینااوالو دغه راز له بې وزلو او په ځانګړې توګه له یتیمانو او کونډو سره له سوداګرو او خیریه بنسټونو د مرستې او ملاتړ غوښتنه وکړه او د هېوادوالو پر یووالي، پیوستون او یو د بل پر منلو یې ټینګار وکړ. په ورته وخت کې دوی په خپلو ویناوو کې له هېواد والو وغوښتل، چې د اسلامي امارت د ځواکونو ملاتړ وکړي او د شریر او ورانکارو کسانو او عناصرو پر وړاندې ودرېږي. دوی په هېواد کې د اسلامي نظام په ټینګښت او پیاوړتیا کې د خلکو ونډه مهمه وبلله او په دې برخه کې یې د دوی د ملاتړ غوښتنه وکړه.

# د ټولنې په وده کې د اسلامي پوهانو رول

عبدالهادي قریشي

لنډه کتنه:

په تېرو زمانو کې زیات شمېر اسلامي پوهانو په خپلو لوړو اندېښو سره، دا توان پیدا کړی و،چې په اسلامي نړۍ او نورو اروپایي سیمو او واکمنیوکې د ډېرلوړنامه څښتن واوسي او بشرته ډېر خدمتونه ترسره کړي،چې په دې هکله یوه شاعر ویلي دي:

**هربیشه گمان مبرکه خالیست**

**شاید که پلنگی خفته باشد**

یا:مینـدې راوړي ډېر زامن ډېر اولادونه یو یا دوه یې اپلاتون او سکندر شي.

۱- هارون الرشید(۱۷۰ ـ۱۹۳ هـ) د عباسیانو له لویوخلیفه ګانو یا مشرانو څخه و، له هغه ډېرې قصې موږ ته په میراث پاتې دي،چې د هغه واکمن خلیفه ،حیثیت یې ځوځلې زیات کړی دی.

د حکومت پرمهال یې روغتونوته،پلونه،ویالې، بندونه،ښوونځي، مدرسې او لویې لارې جوړې شوې، همدارنګه نوي اکتشافات وشول او د عباسیانو د دورې لویې یې څرګنده کړې ده.

-همدا ډول د هارون الرشید او مامون په حکومتونو کې نوي تمدن وده وکړه او هم د یوناني فلسفې او سیاست، ډګر پراخ شو او هم عربي ژبې ترقي وکړه .پرهمدې مهال اصمعي چې په نحو اولغت کې استاد و هم خدمت کړی دی.

- عباسي خلیفه ګانو له ۱۳۲ـ۶۵۶هـ) پورې چې څه ناڅه ۵۰۰کاله کېږي، حکومت وکړ،دغه دوره د ترقۍ پیلامه وه ،په دې لویې دورې کې ډېر نوي څېړونه کشف،اختراع او تمدن منځته راغی، د عباسیانو پر مهال اسلامي تمدن خپل لوړ دور وواهه. په داسې حال کې چې پرهغه مهال په اروپا کې لا تاریکي وه، او د جهل او نادانۍ په دوره کې یې غوټې وهلې ،خوپه اسلامي نړۍ کې لوړ تمدن موجود و.

دارالخلافه (بغداد- کوفه) د اسلامي علومو د تمدن او پرمختګ یوسترځای و او ډېر علماء،استادان،خطاطان، معماران،مخترعین، ادیبان...په کې موجود وو.

پرهغه مهال دارالفنون(پوهنتون) جوړشو،چې دغه علمي ځانګې په بغداد،نیشاپور، دمشق ،قاهره (مصر) او د مصرپه اسکندریه کې وې،دغه راز په خراسان یعنې ښکلي هرات،کندهار،په لرغوني کابل،لوګر،جلال آباد، لغمان،کونړ، پشه وري (پېښور) کویټه، پکتیا،ارغنداب،کاپیسا او هم په ډیلي او لاهور کې موجودې وې، چې په هغوکې د اسلامي دیني تعلیماتو سربېره،فزیک،ریاضي استرانومي (ستوري پېژندنه)،کیمیا،طب،تاریخ،جغرافیا او ادبي فنون او علوم تدریس کېدل.

دغه راز د نجوم (استرانومي) په علم ، کیمیا،فزیک اوطب کې د یادښت وړ پرمختګ هم وشو،چې د ستورو پېژندنې یا استرانومي علوم اسلامي نړۍ کې ډېره ترقي وکړه.

۲- شخصیتونه،پوهان ، د هغو ارزښتمند کارونه اوچوپړونه:

د هغې زمانې د لویو ساینسي علماؤ څخه

الحسن بن هشیم د هغې زمانې لوی فزیک پوه و، چې په بغداد کې اوسېده ،دغه راز(جابرابن عیان) دکیمیا په علم کې ډېر چوپړونه وکړل او حتی انکشاف یې ورته ورکړ ، دغه راز ابوبکر محمد بن ذکریای رازي چې د طب علم لوی عالم ګڼل کېږي، په لرغوني بلخ کې زږېدلی دی، رازي بیا په ښکلي هرات کې علومو ته ترقي ورکړه حتی (۱۲۳) اثار یې تالیف کړي دي.

- ابوعلی سینا بلخي د طبي علومو په برخه کې ځینې قوانین ولیکل چې لاتر اوسه د هغه له قوانینو په طب کې ګټه اخیستل کېږي او د (قانون الطب) او زړه په اړه تالیفات لري.

همدا اوس هم د هغه په نامه په افغانستان او نړۍ کې ډېر علمي مراکز نومول شوي دي.

دغه ډول له لویوتاریخ پوهانو لکه ابوجعفر محمد بن جریر طبري ، ابن سعدابن اثیر، ابن عسکر مسعودي او ابن خلاون ،یادښت وړ دی،چې اوس زموږ په هېواد او علمي ټولنو کې د (ابن خلدون) لیکنې ډېرې یادېږي،

همدا ډول ابولقاسم ابن حوقل، ابن بطوطه او ادریس د جغرافیا د علم مهم شخصیتونه او انکشاف ورکوونکي وو، دغه ډول فارابي ابو نصر د معلم ثاني په نوم یاد له لویو فلاسفه و په حکمت ، فلسفه، ریاضي، ستوري پېژندنې(نجوم) طب کې یې خدمتونه کړي او نوي قوانین یې وضع کړل، هغه په ۳۳۹ هـ کې په دمشق کې ومړ.

ابوالوفا دهئیات او نجوم او جغرافیا د علومو یو لوی څېړونکی او لیکوال و، چې د لومړي ځل لپاره یې د بطلیموس دغه نظریه !کوم چې ویلي یې دي:

ځمکه ساکنه ده او حرکت نه لري، دغه نظریه او اندېښه یې تر نقد لاندې ونیوله او هغه یې انتقاد کړه، دغه راز ثابته شوه چې ځمکه دوه ډوله حرکتونه لري چې موسم، کال او شپې ورځې ورڅخه پیدا شي.

ـ دالجبر او ریاضي علومو ډېر مشهور استاد چې لا تراوسه یې نوم د مکتب په کتابونه کې شته هغه ( محمد بن موسی ) دی،چې دالجبر بنسټ یې ایښی دی )

د یادونې وړ ده ، چې همدا اوس هم د حکیم خیام له ادب او الجبري قوانینو لکه د ابن سینای بلخي کوم چې پر هغه مهال په بغداد او نیشاپور کې و، په اروپا کې ترې ګټه اخیستل کېږي او ز موږ په هیواد او ایران کې لوستونکي لری همدا ډول مسلمانانو پر هغه مهال د بېړۍ چلولو په فن او پوهه کې مهم رول ولوباوه.

همدا ډول د عباسیانو په دور کې د جغرافیا په پوهې کې د لومړي ځل لپاره ( اسطرلات ( دستور ولیدلو ساده آله ) چې د قطب نما په شکل او بڼه جوړه شوې ده او په استرانومي کې د طول او ارتفاع او پر تله کولو ( ترازو ) کولو لپاره په کارېږي او (اسطراب ) مانا د یوناني وي څخه د ( استرا ) یا نې ستورى او پر تله کولو په مانا دي اخیستل شوی دي .

البته پورته یاده شوې نوې آله د ( اغریق) له خوا جوړه شوې چې همدا اوس د اروپا په رصد خانو کې د دور بین په نامه هم کارول کېږي .

دغه ډول فردوسي لوړ شاعر و چې شاهنامه یې ولیکله او سلطان محمود ته یې وړاندې کړه (۳۸۷- ۴۲۱هـ)

ـ باروت لومړی ځل په خراسان کې جوړ شوي دي.

-ساعت لومړی ځل د هارون الرشید په عصر کې په عربوکې جوړ شو او د هغه یوه نمونه یې د خپل سفیر په لاس د فرانسې پا چا ( شاد لسمان ) ته د سوغات په ډول ولېږه شاد لمان دغه نوې آله په خورا شوق او تعجب سره وکتله او بیا یې خپل وزیران را ټول کړل او ویې ویل،چې د دې په مخ کې پېریان دي .

دا مسلمانان ووچې نوي اکتشافات اواخترعات یې کول او نوم یې ګټلی و.

ـ دغه راز حضرت مولانا محمد جلال الدین محمد بلخي په شعري انداز کې لومړی شخص دی چې په سیمه او نړۍ کې اوچت یادېږي .

دغه ډول جلال الدین محمد بلخي چې په مولوي رومي هم مشهور دی ۹۰۰ کاله وړاندې په بلخ کې پیدا شوی او مثنوي یې لوی اثر دی هغه د شمس تبرېزي مویدشو- هغه یوصوفي و، په ۶۷۲ هـ کې په ۶۸ کلنۍ کې ومړ.

همدا ډول سید جمال الدین افغان لوی نابغه و، چې په شرق کې د فلیسوف او نابغه اوسیاستوال په توګه هم پېژندی شوی دی ، هغه د امیر شیرعلي خان په دوهم ځل پاچاهۍ کې د معارف لپاره هم ډېر خدمت وکړ.

- یو مسیحي مورخ چې جور جي زیدان نومېږي داسې لیکي،اروپایانو د ، ریاضي علوم له مسلمانانو زده کړي دي .

-دغه راز د عربي ژبې علمي اصلاحات (ګړدو دونه) لاتراوسه په انګلیسي،فرانسوي،جرمني،هسپانوي او هم په فارسي، ښتو ژبوکې پاتې دي،لکه د الجبر کیمیا (شیمي) اونور.

دغه ډول اروپایي ختیځ پېژندونکی (ژوژماکستاکاپ) لیکلي، چې دغه اوسني علوم پوهه تخنیک اوفن کومه چې نن ورځ ځینې هېوادونه پرهغه ویاړي،په حقیقت کې د اسلامي علماوو د لوړو کوپړیو زېږنده ده، دغه راز قاشق پنجه او پرڅوکۍ کېناستل اروپایانو له نورستانیانو زده کړي او دغه د مدنیت توکي او عصریت یې اروپا ته لېږدولی دی.

دریم ـ دغه راز زیات شمېر فرانسوي،انګرېزي، جرمني، ځوانان د زده کړو د ترلاسه کولولپاره د هغې زمانې (اندلس) هسپانیه او نورو اسلامي هېوادونو پوهنتونو ته ورتلل، چې په پایله کې یې طب،هندسه،ریاضي،تاري خ،جغرافیا،ادبیات، عربي ژبه او طبیعي علوم د ژبو ګرامر هم زده کاوه، چې د هارون الرشید او مامون پر مهال له چین،فرانسې سره یې خپل ساسي روابط ټینګ کړي وو او سفیران یې تبادله کړي وو.

په خپله هارون الرشید د بیت الله شریف حج ته تللی او ۹ ځله یې د امیرحجاج په توګه حج کړی ،چې له ۲۳ کاله سلطنته وروسته هغه په طوس (مشهد) کې ومړ او ډېر اروپایان یې په جنازه کې حاضر وو.

د ده له مړینې وروسته د هغه زوی مامون الرشید په مروکې او بل زوی یې چې امین نومېده،په بغداد کې و، دوی دواړو د خلافت پرسر ځینې ستونزې درلودې هغوی په دولتي چاروکې او په علمي ،ادبي ډګرونوکې ګامونه پورته کړل.

ـ دغه راز له دوی مخکې د امویانو پر مهال په بغداد،بصره،کوفه حجاز دمشق مشهد،نیشاپور کې ډېرې ښې مانۍ جوړې کړې او ساری یې اوس هم شته لکه د هرات جامع جومات او په بلخ مزارکې د حضرت علي صاحب جومات په وروستیوکې د عثماني خلافت (ترکیه) کې ۱۸۵۰- ۱۸۵۵ موده کې په دولت کې په بشپړه توګه اصلاحات منځته راتلل، پرهغه زمان کې قسطنطنیه یا (اسلامبول،استانبول) لا تراوسه د ښه تمدن زانګو ده.

موږ مسلمانان په دې باور لرو چې ډېر ژر به اسلامي نړۍ هغې چې د غزنین د لوړ اسلامي مدنیت د مرکز په توګه پېژندل شوي ، نورې چارې هم په لوړه کچه سرته ورسول شي او ښکلی نوم به یې په تاریخ کې لا اوچت وځلېږي.

اخځلیکونه:


۱-دافغانستان لنډ تاریخ دپوهاند حبیبی لیکنه ـ دافغانستان تاریخ درسي کتاب ۱۳۷۸ کال

۲-افغانستان درمسیر تاریخ غبار دشرق تاریخ او یوه برخه.

۳- دسکندر په هکله مقاله د عبدالهادی قریشی اثر

۴ـ دپیام حق مجله- لسمه ګڼه ۱۳۸۹

۵ـ امام قتیبه بغلانی کتاب دمقالو مجموعه (۱۳۸۸)ش- کابل

## شعر و ادب

# گزیده‌ای از کتاب زبور عجم

**علامه محمد اقبال (رح)**

**بر سر کفر و دین فشان رحمت عام خویش را**
**بند نقاب بر گشا ماه تمام خویش را**
**زمزمهٔ کهن سرای گردش باده تیز کن**
**باز به بزم ما نگر ، آتش جام خویش را**
**دام ز گیسوان بدوش زحمت گلستان بری**
**صید چرا نمی کنی طایر بام خویش را**
**ریگ عراق منتظر ، کشت حجاز تشنه کام**
**خون حسین باز ده کوفه و شام خویش را**
**دوش به راهبر زند ، راه یگانه طی کند**
**می ندهد بدست کس عشق زمام خویش را**
**ناله به آستان دیر بیخبرانه می زدم**
**تا بحرم شناختم راه و مقام خویش را**
**قافله بهار را طایر پیش رس نگر**
**آنکه بخلوت قفس گفت پیام خویش را**

***

**این جهان چیست صنم خانهٔ پندار من است**
**جلوهٔ او گرو دیدهٔ بیدار من است**
**همه آفاق که گیرم به نگاهی او را**
**حلقه ئی هست که از گردش پرگار من است**
**هستی و نیستی از دیدن و نا دیدن من**
**چه زمان و چه مکان شوخی افکار من است**
**از فسون کاری دل سیر و سکون غیب و حضور**
**اینکه غماز و گشاینده اسرار من است**
**آن جهانی که درو کاشته را می دروند**
**نور و نارش همه از سبحه و زنار من است**
**ساز تقدیرم و صد نغمهٔ پنهان دارم**
**هر کجا زخمهٔ اندیشه رسد تار من است**

# حکایت

**حضرت سعدی (رح)**

ظالمی را حکایت کنند که هیزم درویشان خریدی به حیف و توانگران را دادی به طرح، صاحبدلی بر او گذر کرد و گفت:

**ماری تو که هر که را ببینی بزنی**
**یا بوم که هر کجا نشینی بکنی**
**زورت ار پیش می‌رود با ما**
**با خداوند غیب دان نرود**
**زورمندی مکن بر اهل زمین**
**تا دعایی بر آسمان نرود**

